داکتر شیر حسن حسن ۲۰۱۰/۰٤/۰۲م

# په روسیه کې د پښتوژبې استاد کانستانتین لېبېدیف نوي کلن شو



پوهان او په ځانګړي ډول ژبپوهان د ولسونو تر منځ د اړیکو د ټینګښت لارښوونکي او مخکښان دي. که دا ومنو نو کانستانتین الکساندرویچ لېبېدیف په روسیه کې د ختیځ پوهانو، افغانستان پوهانو او پښتو پوهانو د څو نسلونو مخکښ لار ښوونکی او غښتلی استاد دی. استاد لېبېدیف د ژوند او یا کاله د پښتو ژبې او افغانستان پېژندنې تحقیق او تدریس ته وقف کړي دي. په پښتو ژبپوهنه او افغانپوهنه کې یې تر ۱۱۰ زیات کتابونه، رسالې او مقالې لیکلې دي.

په روسیه کې د پښتو ژبې د زده کړې د پاره درسي کتابونه، د پښتو ژبې ګرامر، روسي - پښتو او پښتو- روسي جیبي، درسې واړه او لوی قاموسونه، په روسي ژبه د پښتو دشفاهي ادبیاتو، کلاسیکو او معاصرو ادبیاتو (نکلونو، لنډو کیسو، متلونو او لنډیو ) منظومې او منثورې ترجمې او د پښتنو د تاریخ او فرهنګ په باب څېړنیزې رسالې او مقالې د استاد لېبېدیف د اثارو محتوا جوړوي.

سږکال چې د تیر په څیر د مارچ په شلمه نېټه د د هغه د زوکړې ورځ د باستاني نوروز د طراوت په ملتیا نمانځل کیږي، جالبه داده چې لېبېدیف په نوي کلنی کې هم په هماغه درسې خونه کې خپلو شاګدانو ته د پښتو سبق وایي، چېرې چې یې او یا کاله مخکې پیل کړی و.

که تاسې وکولای شئ دمبارکی د یو پیغام په ترڅ کې، افغان فرهنګ او پښتو ژبې ته د لېبېدیف د خدمتونو یادونه او قدر داني وکړئ، دا به د نورو ښېګڼو تر څنګ د نورو خادمانو لپاره د تشویق ښه الهام وي.

په درنښت

**************

لیکنې او پیغامونه په دې آدرس راواستوئ :

sherhasan@gmail.com

talafghan@gmail.com

*************

ښاغلی کنستانتین لیبیدیف!

د افغان جرمن آنلاین پورتال ستاسو د زیږیدو د نوییمی کلیزی مبارکی د زړه له کومی وړاندی کوی.

سوکالی، روغتیا اوږد عمر او بری دی تل ستاسو مل وی!

په درناوی.

************

غوث جانباز: دپیام متن په دری ژبه

# استاد روس تبار زبان پشتو کنستانتین لیبیدیف در فدراسیون روسیه، نود ساله شد

دانشمندان و به خصوص زبانشناسان در راه ایجاد و استحکام روابط میان خلقها همیشه راهنما و پیشقدم بوده اند. اگر این نظر را بپزیریم، پس کنستانتین الکساندرویچ لیبیدیف در فدراسیون روسیه بدون تردید در میان چندین نسلهای شرق شناسان، افغانستان شناسان و پشتو شناسان شخصیت و استادی است پیشآهنگ و توانا. استاد لیبیدیف ۷۰



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

(هفتاد) سال عمر خود را در تحقیق ، تدریس و معرفی افغانستان و زبان پشتو وقف نموده است. در بارۀ زبان پشتو و افغانستان شناسی اضافه از ۱۱۰ کتاب ، رساله و مقاله نوشته است.
در زمرۀ فعالیت های بی همتای و علمی استاد لیبیدیف جا دارد از آثار ذیل یاد آوری شود:

- تالیف کتب برای تدریس و آموزش زبان پشتو؛
- تالیف کتاب " گرامر زبان پشتو"؛
- فرهنگ های روسی- پشتو و پشتو- روسی جیبی ، آموزشی (کوچک و بزرگ)؛
- تالیفات ( به زبان روسی) در بارۀ ادبیات شفاهی ، کلاسیک و معاصر زبان پشتو، منجمله در مورد حکایات، قصه های کوتاه، ضرب المثلها و لندیها؛
- ترجمه های آثار منظوم و منثور پشتونها؛
- مقالات و آثار علمی- تحلیلی در بارۀ تاریخ و فرهنگ پشتونها و زبان پشتو.

امسال نیز که مانند سالهای گذشته روز تولد استاد لیبیدیف(۲۰ مارچ) مصادف میشود با فرارسیدن بهار پر طراوت و نوروز باستان، جالب است که این شخصیت عظیم در نود ساله گی اش نیز مثل سابق در همان اتاق درسی همیشه گیش زبان پشتو را برای شاگردانش تدریس میکند... در همان جای که درست هفتاد سال قبل از امروز به کار آغاز نموده بود.
بنده را عقیده بر آنست که اگر کسی از جملۀ شما خواننده گان ارجمند و با احساس بخواهد پیامی را عنوانی استاد لیبیدیف به خاطر یاد آوری و قدر دانی از این همه خدمات بزرگ او برای فرهنگ افغان و زبان پشتو بفرستند، کاری خواهد بود در خور ستایش و تشویق و الهامی خواهد بود برای خادمان آینده!

با احترام،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ